Asylum Support Partnership
help and advice

refugee action | North of England Refugee Service | Refugee Council | scottish refugee council | Welsh Refugee Council Cyngor Ffoaduriaid Cymru

Pushto January 2010

# د پناه غوښتونکو والدينو لپاره د اميندوارۍ/ماشوم اړوند مرستې

که تاسي د بريتانيې د سرحدونو ادارې (UK Border Agency - UKBA) څخه د پناه غوښتنې مرستې ترلاسه کوئ، او اميندواره ياست يا اوس تر دريو کلونو لاندې ماشومان لرئ، کيدای شي تاسو د زياتو پيسو مستحق ياست. دا پاڼه‌ی موجودې مالي مرستې، چې ستاسو لخوا ترلاسه کيدونکو مرستو پورې اړه لري، او دا چې د هغوی د ترلاسه کولو لپاره بايد تاسو څه وکړئ، بيانوي. د ټولو اضافي مرستو د ترلاسه کولو لپاره بايد تاسو ټول هغه ګامونه چې لاندې بيان شوی دي په ورکړ شوي وخت کې دننه تعقيب کړئ.

## په هره اونۍ کې اضافي نقدي پيسې

کله چې تاسو اميندواره ياست او کله چې ستاسو ماشوم  پيدا شي، تاسو کولای شئ له UKBA څخه اضافي مالي مرستې ترلاسه کړئ. کله چې تاسو اميندواره ياست تاسو کولای شئ په هره اونۍ کې د اضافي 3 پونډونو غوښتنه وکړئ. کله چې ستاسو ماشوم نړۍ ته راشي او تر هغه پورې چې هغه يو کلن/کلنه شي، تاسو په اونۍ کې د اضافي 5 پونډونو مستحق ياست. کله چې ستاسو ماشوم يو کلن شي، تاسو به د هغه يا هغې تر درې کلنۍ پورې په هره اونۍ کې د اضافي 3 پونډونو مستحق ياست. کله چې ماشوم درې کلن شي اضافي مالي مرستې به بندې شي او ستاسو د هرې اونۍ د ملاتړ پيسې به د والدينو او ماشومانو لپاره د UKBA د اوسنيو اوونيزو مرستو سره سم وي.

که تاسو د 4 برخې ملاتړ (Section 4 support) ترلاسه کوئ، تاسو کولای شئ د ورته مرستو غوښته وکړئ. سربيره په دې، کله چې ستاسو ماشوم پيدا شي تاسو کولای شئ چې د ماشوم د جامو لپاره په اونۍ کې د اضافي 5 پونډونو غوښتنه وکړئ تر هغه پورې چې هغوی 16 کلن شي. ټولې اضافي مالي مرستې به ستاسو د Azure  د پيسو کارت ته اضافه شي. که تاسو اوس وخت ماشومان لرئ چې عمر يې تر 18 کلونو لاندې وي، بايد هيڅ داسې محدوديت د مالي مرستو په اړه چې په يوه اونۍ کې يې ترلاسه کولای شئ، ستاسو په Azure  کارت کې موجود نه وي. که دا ستاسو لومړنی ماشوم وي، Azure بايد د اميندوارۍ/ماشوم اړوند مالي مرستو له پيل کيدلو سره سم د 5 پونډونو د انتقال محدوديت لرې کړي.

## د اميندوارۍ/ماشوم لپاره اضافي ځانګړې مرسته

کله چې ماشوم زيريدلي وی او تاسو د پناه غوښتنې عادي مرستې ترلاسه کوئ، تاسو همدا رنګه تر 300 پونډه پورې د اضافي ځانګړې مرستې مستحق ياست، چې د نوې زيريدلي ماشوم لپاره د جامو اخيستلو او نور سامان لګښت پوره کړي. که ستاسو ماشومان غبرګوني وي تاسو د 600 پونډو مستحق ياست چې د هر ماشوم په سر باندې 300 پونډه دي. تاسو بايد د دې مرستې لپاره 8 اونۍ د ماشوم له زيريدلو مخکې او يا 6 اونې وروسته له هغه چې ماشوم پيدا شي، درخواست وکړئ.

که تاسو د 4 برخې ملاتړ ترلاسه کوئ، تاسو کولای شي د هر نوي ماشوم لپآره د 250 اضافي ځانګړې مالي مرستې لپاره غوښتنه وکړئ. که تاسو غبرګوني ماشومان ولرئ د 500 پونډه مستحق ياست. دا به ستاسو د Azure  کارت پيسو ته اضافه کړی شي. تاسو بايد د دې مرستې لپاره 8 د ماشوم له زيريدلو مخکې او يا 6 اونې وروسته له هغه چې ماشوم پيدا شي، درخواست وکړئ.



OISC No: N200100132 | Community Legal Service

Asylum Support Partnership is a partnership project hosted by the British Refugee Council
British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom, VAT no: 936 519 988

## زه باید څه وکړم او څه وخت يې وکړم؟

دې مالي مرستو ته د لاسرسي لپاره تاسو باید یوه لیکل شوې او لاسلیک شوې غوښتنه UKBA ته ولیږئ. که تاسو له UKBA څخه د 4 برخې مرستې ترلاسه کوئ، تاسو باید دا ټولې غوښتنې د 4 برخې د اضافي مالي مرستې د فورمې په کارولو سره وکړئ او ټول اړوند ځایونه په نښه کړئ. دا غوښتنې باید ستاسو نومول شوي د دوسیې مدیر (case owner) ته ولیږل شي. که تاسو د دوسیې مدیر نه لرئ تاسو باید د UKBA سیمه ییز دفتر ته لیک ولیکئ.

د هرې غوښتنې لپاره تاسو باید اصلي اسناد ورولیږئ چې UKBA به يې بیرته تاسو ته راولیږي. تاسو ښایي چې د خپل ریکارډ لپاره د خپلې غوښتنې او اسنادو فوټوکاپي واخلئ. تاسو باید ټولې غوښتنې او اصلي اسناد د راجستر شوي پستي (recorded delivery) له لارې ولیږئ (په دې اړه د پستي له دفتر څخه پوښتنه وکړئ).

که د دې غوښتنلیکونو په بشپړولو کې مرستې ته اړتیا لرئ د کډوالو لپاره د خپل سیمییزو ادارو سره اړیکې ونیسئ.

## کله چې امیندواره شئ:

په UKBA کې د خپلې دوسیې له مدیر څخه د 3 پونډه مرستې او د 300 یا 250 اضافي ځانګړې مرستې غوښتنه وکړئ او د خپل ډاکټر یا قابلې لخوا یو لیک یا د MATB1 فورمه ورسره ضمیمه کړئ چې ستاسو امیندواري او د ماشوم د زیږیدلو تقریبي نیټه تصدیق کوي.

په یاد ولرئ چې د امیندوارۍ/ماشوم د ځانګړې مرستې غوښتنه د UKBA لخوا په ورکړ شوي وخت کې دننه وکړئ:

- که تاسو د پناه غوښتنې عادي مرستې ترلاسه کوئ، د 300 پونډه غوښتنه باید شپږ اونۍ د ماشوم له زیږیدلو مخکې او یا دوه اونۍ د ماشوم له زیږیدلو وروسته وشي.
- که تاسو د 4 برخې ملاتړ ترلاسه کوئ، د 250 پونډه غوښتنه باید اته اونۍ د ماشوم له زیږیدلو مخکې او یا شپږ اونۍ د ماشوم له زیږیدلو وروسته وشي.

که تاسو له دې مخکې غوښتنه وکړئ، کیدای شي UKBA ستاسو غوښتنلیک و نه خیري. مهرباني وکړئ او دا وګورئ چې که تاسو د ورکړ شوي وخت دننه اړ یاست چې خپل غوښتلیک دوباره ولیږئ. په ځینو حالاتو کې UKBA کیدای شي د امیندواري/ماشوم مالي مرسته د ماشوم تر زیږیدلو پورې ورنه کړي، او د ماشوم د زیږیدلو د تصدیق غوښتنه وکړي (د مثال په توګه د زیږیدلو تصدیق پاڼه [birth certificate]).

**مهرباني وکړئ او په یاد ولرئ چې که تاسو د ورکړ شوي وخت دننه درخواست ونکړئ تاسو به مالي مرسته ترلاسه نه کړئ.**

## کله چې ماشوم پیدا شي:

د ثبت دفتر ته ورشئ او بی له ځنډه د خپل ماشوم زیږیدنه ثبت کړئ. هغوی به تاسو ته د زیږیدنې «لنډه» تصدیق پاڼه په وړیا توګه درکړي. همدا رنګه تاسو کولای شئ د لږ فیس په بدل کې «اوږده» تصدیق پاڼه ترلاسه کړئ چې ډیر تفصیلات لري. تاسو به **اړ یاست چې د زیږیدنې دواړه تصدیق پاڼې ترلاسه کړئ.** که تاسو د 4 برخې مرستې ترلاسه کوئ، کولای شئ له UKBA څخه د پیسو غوښتنه و کړئ چې د اوږدې تصدیق پاڼې ترلاسه کولو لپاره يې ورکړئ.

د دې خبرې د اطمینان لپاره چې ستاسو ماشوم ستاسو د ملاتړ ته اضافه شوی دی، تاسو باید لیکل شوې غوښتنه لاسلیک کړئ او د خپلې دوسیې مدیر ته يې ورولیږئ. تاسو به اصلي د زیږیدنې تفصیلي تصدیق پاڼه هم ضمیمه کړئ. کله چې UKBA ستاسو غوښتنلیک ترلاسه کړي، هغوی به پورته بیان شوي مالي مرستې ستاسو د پناه غوښتنې د ملاتړ مرستې ته اضافه کړي.

که مالي مرستې د دوو یا دریو اونیو دننه پیل نشي، د کډوالو لپاره د خپلې سیمه ییزې ادارې سره وګورئ.

مجرد پلرونه چې د وړو ماشومانو پالنه وریه غاړه وي کولای شي د مور د نه موجودیت په صورت کې د اضافي مرستو د ترلاسه کولو لپاره پورته بیان شوې لارښووني تعقیب کړي.



Asylum Support Partnership consists of:

North of England Refugee Service, charity number: 1091200 www.refugee.org.uk
Refugee Action, charity number: 283660 www.refugee-action.org.uk
Refugee Council, charity number: 1014576 www.refugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council, charity number: SC008639 www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Welsh Refugee Council, charity number: 1102449 www.welshrefugeecouncil.org